PASHTO
2024-02-15

# ' ګټور، په زړه پورې': د DSA اداري مرستیاله د DCSD د کال د تعلیمي ملاتړ ترټولو غوره مسلکي په توګه وویاړل شوه

ښایي چې په DeKalb هنرونو ښوونځي (*DSA*) کې د آغلې Donna Howard دنده "اداري مرستیاله" وي خو د هغې وظیفه لدې څخه خورا زیاته پراخه ده چې هغه دې یواځې د اداري سره مرسته وکړي. هغه په باوري توګه د ښوونځي د کارمندانو، زده کوونکو، والدینو، د ښوونځي نورو شریکانو سره د مرستي کولو سربیره په هر هغه څه کې مرسته کوي چې په هغې کې مرستي ته اړتیا لیدل کیږي.

د نورو سره د مرستي لپاره د هغې ژمنتیا هغه د دې جوګه کړه چې په DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی (*DCSD*) کې د 2023-2024 ښوونیز کال لپاره د تعلیمي ملاتړ د لومړۍ مسلکي کیدو ترټولو غوره جایزه ترلاسه کړي. دا جایزه هغې ته په تیر مني کې د ولسوالۍ د تعلیمي غوره والي اکاډمۍ د 10 مې کلنۍ جایزو په جریان کې ډالۍ شوه او لاهم په دې جایزې د ویاړیدو په نتیجه کې د ډیر درناوي احساس کوي.

هغې وویل چې "زه د دې غوره جایزې په ترلاسه کولو د ویاړ احساس کوم." "د کاري اخلاقو او اخلاص لپاره DeKalb ښوونځیو ته زما معرفي کیدل ماته د ډیرۍ لاسته راوړنو احساس راکوي."

آغلې Howard د DCSD سره په 2007 کال کې د ابتدایي ښوونځي د رسنیو د مامورې په توګه دنده پیل کړه. هغه وخت هغې دې وظیفي ته په دې خاطر غوښتلیک وړاندې کړ چې د کتابتون فعالیتونو د ترسره کیدو په برخه کې زده کړه وکړي.

"ما د رسنیو متخصص، د ټولو کارمندانو او زده کوونکو سره د کار کولو څخه خوند واخیست. آغلې Howard وویل چې زه په قطعي توګه دا نظر لرم چې دې وظیفي ما ته دا وړتیا را په برخه کړه چې د ښوونځي په ودانۍ کې د بیلابیلې وظیفې او پروسې په بشپړه توګه زده کړم او په اړه یې پوهه ترلاسه کړم". "زه د رسنیو د مامورې په توګه خپله وظیفه په ولسوالۍ کې د نورو فرصتونو د لاسته راوړلو لپاره د یو ځانګړې هدف پر لور پرمختګ ګڼم."

د رسنیو د مامورې په توګه د څو کلونو لپاره د وظیفي ترسره کولو وروسته هغه په DSA کې اداري مرستیاله شوه او د تیرو 14 کلونو راهیسې هلته وظیفه ترسره کوي. هغې نورو خلکو سره د مرستي کولو په برخه کې خپله لیوالتیا او اخلاص دې وظیفي ته د دوام ورکولو د دلیل په توګه بیان کړ.

آغلې Howard وویل چې "زه تل په دې خبره قوي باور لرم چې له نورو سره هغه ډول چلند وشي څرنګه چې تاسو خوښوئ چې هغوی له تاسو سره چلند وکړي." "له هر چا سره باید په مساوي توګه او درناوي چلند وشي."

د DSA مدیر ډاکټر Keith Jones د یوې غوره کارمندې په توګه د آغلې Howard ستاینه وکړه چې لیوالتیا یې په هر هغه چا مثبته اغیزه کوي چې هغه ورسره مخ کیږي.

" آغلې Howard د اعتماد وړ هغه کارمنده ده چې د ګډ هدف پر لور د تمرکز سره دا ځانګړې اداره متحده ساتي. ډاکټر Jones وویل چې هغه دوستانه او په ځان باور لرونکې دواړه شخصیتونه لري او دلته د هغې وجود یو خوندور احساس رامنځته کوي". "هغه د وار خطایي پر وخت وضعیت درک کول روښانه کوي، د خواشینۍ پر وخت هڅونه وړاندې کوي او په دوامداره توګه نورو ته لار روښانه کوي ترڅو پریکړه وکړي. هغه د DSA کورنۍ لپاره یو مهم شخصیت دی."

PASHTO

د آغلي Howard په وینا په DSA کې د وظیفې ترسره کولو لپاره ترټولو غوره خبره په زړه پورې کاري چاپیریال دی. هغې دا یادونه وکړه چې زده کوونکي زیاتره د هغې دفتر ته د سندرې ویلو، نڅا کولو، د ډرامې یوه خوندوره برخه ترسره کولو یا د هغې کتلو ته راځي.

هغې زیاته کړه چې "د زده کوونکو بریالیتوب ډاډمن کولو لپاره د DSA مدیران او کارمندان د یو ټیم په توګه کار کوي." "که څه هم موږ ټول خپلې وظیفې لرو خو زه دا خوښوم چې موږ ټل د خپلو زده کوونکو د خدمت په خاطر یوځای کیږو کوم چې زموږ خورا ارزښناکه شریکان دي."

آغلې Howard وویل چې هغه هیله لري چې د هغې میراث د هغې د اساسي ارزښتونو د مهربانۍ، شفقت او انصاف څرګندونه وکړي. د یو والد لخوا د ښوونځي ورځ په خوشحالۍ سره دتیریدو په اړه د هغې څخه د پوښتنې په ځواب کې هغې یوه بیلګه شریکه کړه. په ځواب کې هغې دا روښانه کړه چې د خپلو ورځنیو دندو ترسره کول او له خلکو سره ښکیلتیا په بشپړ ډول زما د شخصیت څرګندونه ده.

هغې وویل چې "زما رول زما د خپل ځان، DSA او د ټولې ولسوالۍ د فکر څرګندونه ده." "زه خپل شخصي اساسي ارزښتونه له هر هغه چا سره شریکوم چې زه هره ورځ ورسره مخ کیږم. زه هیله منده یم چې دا ارزښتونه به تل دوام ولري."

XXX